# رغونه

## اونیزه

د ولایتي او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د شـــعبان ۹مـــه، ۱٤٤٦ هــ.ق کال
سلواغه/دلو ۲۰مه، ۱۴۰۳ هــ.ش کال

لومړی کال، پرله پسې لومړی گڼه


دافغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


په دې گڼه کې لولئ:


- کندهار: د کندهار ښــار په شــپږمه ناحیه، دریم گــذر کې د کوڅو کانگریټ کولو کار جریان لري
- جلال آباد: د جلال اباد اوومه ناحیه کې د عمومي سرک د خاکروب چارې جریان لري
- هرات: افتتاح و بهره‌برداری از دو دروازه ورودی شهر هرات
- لوگر: د پل علم ښــاروالی له لوري د سړکونو او پلیو لارو جارو کول دوام لري
- خوست: د خوســت متون مینه کــې د ۸ پلچکونــو د جوړولو چارې بشپړې شوې
- فراه: فراه ښــاروال د میرویس نیکه پارک ختیځ لوري ته د سړک رغنیزې چارې وڅارلې
- مزار شریف: پــروژه کانکریــت ریــزی سرک کارته ظهرالدیــن فاریابی آفرگشایی شد
- سرپل: کانکریت ریزی سرک جنوب مســجد جامع ابوذرغفاری آغاز گردید
- سمنگان: عواید شاروالی ایبک افزایش چشمگیر یافته است
- بامیان: برنامه آموزشی تقویه فرهنگ شهرنشینی در ناحیه اول شهر بامیان دایر شد
- پکتیکا: د پکتیکا ښرنې ښــاروالی د ښــار په ټولو برخو کې د کثافت دانیو د نصبولو چارې جریان لري
- غزني: غزني ښار څلورمې ناحیې اړوند سکورت بازار کې د سړک په سر د چرگانو د غوښې د پلور مخنیوی وشوه


## غــزني ښــاروالی ریاســت د را روان ۱٤٠٤ کال لپاره د ســلگونو زرو نیالگیــو کېنولــو تــه چمتــوالي لــري!


غزني


## کندهار کــې د ترنک پله څخه شروع بیا تر میدان هوایي پــورې د احمــد شــاهي سرک سمســورولو هڅــې


کندهار

## اداري کمپلکس مخې ته د لښــتیو چارې بشــپړې او د سړک چارې پیل شوې دي.


خوست

## د کندهار ښـار په شپږمه ناحیه، دریم گذر کې د کوڅو کانګریټ کولو کار جریان لري



کندهار

کندهار ښـاروالی د خپلو انکشافي کارونو په دوام د ښار په شـپږمه ناحیه، دریم گذر، په مقدس کارته کې د درو کوڅو کانګریټ کولو چارې پیل کړې دي.

دغه کوڅې چې ٤٥٠ متره اوږدوالی، ۷ متره پلنوالی لري یوه نیمه میاشت مخکې یې رغنیزې چارې پیل شوې دي، تردې مهاله یې ۸۰ سلنه کارونه مخته تللي او پاتې کارونه به یې د یوې اوونۍ په موده کې بشپړ شي.

په دغــه رغنیزه پروژه کې هره ورځ ۲۵ کسـانوته د کار کولو زمینه برابره شوې ده، ۵ کسان په مسلکي توګه او ۲۰ کسان په غیر مسلکي توګه په کار کولو بوخت دي.

ددې کوڅو په اساسي رغولو سره د سیمې خلګو زیاته خوښي وښووده او د کندهار ښاروالی ددې مهم ګام څخه یې ځانګړې مننه وکړه.

## ورکشاپ دو روزه آگاهی‌دهی از تغییرات اقلیمی برای کارمندان ادارات تدویر شد

ورکشاپ آموزشـــی دو روزه تحت عنوان راه‌های مبارزه با تغییرات اقلیمی در هماهنگی با مؤسسـه AWEC ولایت پروان برای کارمندان ادارات توسط شاروالی چاریکار راه اندازی گردید.

این ورکشاپ به منظور افزایش آگاهی کارمندان ادارات، آگاهی دهی از تأثیر تغییرات اقلیمی، وضعیت جوی و آب و هــوا و پیامدهای آن و عوامل مؤثـر در این تغییرات راه اندازه شده است.

در ایــن برنامه به کارمنــدان ادارات اطلاعات مفیدی در مورد پدیده‌ی تغییر اقلیم، عوامل آن و راه‌های مقابله با آن ارائه شد. تغییرات اقلیمی که در سال‌های اخیر جامعه و کشور را با مشکلات جدی روبرو کرده است شامل سیلاب های ویرانگر، خشکســالی‌ها، بارندگی‌های غیرموسمی و بروز امراض گوناگون و غیره می‌باشد کــه مورد بحث و بررسی قرار گرفت.

شاروالی چاریکار چالش‌ها و پلان خویش را در مورد تغییر اقلیم و حراســت از آب‌وهوا، محیــط و آگاهی دهی برای شـهروندان در زمینه کنـترُل تولیـد گازات مضره برای اشتراک کنندگان ارائه کرد.

پروان

## شهر چاریکار توسـط کارمندان تنظیف شاروالی همه روزه پاک کاری می گردد

شـهر چاریــکار همه روزه توسـط کارمنــدان تنظیف و سرسبزی شـاروالی پاک کاری میشـود و برای نظافت و پاکی شهر خود متعهدانه کار می کنند.

تیم تنظیف شاروالی چاریکار از مردم می‌خواهد که باید با روحیه انسانی همواره تلاش کنند و به منظور صفایی شهر خود با اداره شاروالی همکاری کنند.

پروان

## د یو این ډي پي موسســې مســوولینو سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه.




جلال آباد

د جلال آباد ښــاروالی د تخنیکي او ســکتوري چارو رئیس انجینــر وحیدالله مخلــص د پلان آمر انجینــر احمد جاوید جهانمل او د اوومې ناحیې آمر قاري محمد اسمعیل سعادت د یو این ډي پي موسسې مســوولینو سره د اوومې ناحیې په مربوطاتــو کې د اســتنادي دېوالونو د جوړولــو په موخه د همغږۍ ناسته ترسره کړه.

د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس د یادې موسسې مسولینو ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ.

یاد استنادي دیوالونه به د موسـمي سیلابونو د مخنیوي په موخه ګټور ثابت شي.

د جلال آباد ښــاروالی رهــبري هڅه کوي چــې د داخلي بودیجې او همکارو موسســو په مرســته ولســونو ته ښلابیل خدمات وړاندې کړي.

## زباله ها در سطح شهر و نواحی شاروالی یکه‌ولنگ پاک کاری و جمع‌آوری می‌شود

به منظــور حفظ نظافت، صفایی شــهر و صحت عمومی، زباله ها در ســطح شهر و نواحی شــاروالی یکه‌ولنگ همه روزه توسط تیم تنظیف و سرســبزی شاروالی بامیان پاک کاری و جمع‌آوری می‌شود.

تیم های تنظیف روزانه در نقاط مختلف شهر حضور یافته و زباله‌هــا را از معابــر عمومی، بازارهــا، کوچه‌ها، ادارات دولتی و سایر نقاط شهر بامیان جمع‌آوری کرده و به مکان های تعیین‌شده انتقال می‌دهند.

شــاروالی یکه ولنگ ازباشــندگان محل میخواهد که در جابجایــی و رعایت اصول نظافت و مدیریت درســت زباله جهت بهبود وضعیت محیط زیست سهیم باشند.

بامیان

## د جلال اباد اوومه ناحیه کې د عمومي سرک د خاکروب چارې جریان لري

د جــلال اباد ښــاروالی د تنظیف او سرسبزۍ امریت د تنظیفاتي اتلانو له لوري د اوومې ناحیې اړوند کابل ـ جلال اباد عمومي سرک غاړو ته د خاکروب (جارو کشــی) چارې جریان لري.

د تنظیف او سرسبزۍ امریت له لوري هره ورځ او شپه د ښار په ښلابیلــو نواحیو کې د خاکروب یا جارو کشــی چارې ترسره کېږي.

د جلال اباد ښاروالی رهبري له ټاسو ښاریانو څخه غوښتنه کوي چې د ښــار په پاکوالي کې د ښاروالی له کارکوونکو سره همکاري وکړئ.

جلال آباد

## رئیس سکتوری شاروالی مزارشریف از کانال آب های زاید دشت شور دیدار و نظارت نمود




مزار شریف

استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری شاروالی مزارشریف در حالیکــه مولوی اختر محمد هنر آمر تنظیف و سرســبزی شــاروالی مزارشریف نیز حضور داشت از کانال آب های زاید ساحه دشت شور واقع در ناحیه هشتم شهر مزارریف دیدار و پیرامون پاک کاری آن هدایت داد.

آقای مایار گفت که این کانــال از مهم‌ترین کانال های آبرو شــهر مزارشریف می باشــد؛ بنابرین بایــد در جریان حشر عمومی راه‌اندازی شــده پاک کاری گردد و زباله های آن به بیرون از شهر منتقل گردد.

وی علاوه کرد که در این ســاحه رفت و آمد شــهروندان زیاد بوده و ساحه دید مردم می باشد باید هرچه زودتر پاک کاری شده و ساحات اطراف آن هموار گردد.

## د لغمان مهترلام ښار د ویالو پاک کاري ترسره شوه



لغمان

په یاده پاک کاري کې پلچکونه او ویالې په بشــپړ ډول پاکې شوې او کثافات ترې راټول او یو مناسب ځای ته انتقال کړل شول.

د مهترلام ښــاروالی د تنظیف کارکوونکي هره ورځ د سهار له ۷ بجو څخه تر مازدیګر ناوخته پورې د مهترلام ښار په ښلابېلو برخو کې خپل فعالیتونه کوي او کثافات راټولوي.

د مهترلام ښاروالی رهبري له ټولو ښاریانو څخه غوښتنه کوي چې د ښــار په پاک چاپېریال ســاتنه کې له ښاروالی سره همکاري وکړي، کثافات د ښــاروالی له لوري په لګول شویو کثافــت دانیــو کې واچــوي ترڅــو د ښــاروالی د تنظیف کارکوونکي یې یو لرې ځای ته انتقال او دفن کړي.

## د داوطلبی خبرتیا !

نیټه : ۲۱/ رجب المرجب/ ١٤٤٦

د محمود راقي ښاروالی په پام کې لري چې خپل یو باب هوټل د کرایي لپاره اعلان ته وسپاري ، نو هغه افراد او اشــخاص چې غواړي قــرار داد وکړي باید د اعلان له خپریدو وروســته په(۲۱) ورځو کې دننه د محمود راقي ښاروالی ریاست ته خپل غوښتنلیک وســپاري. شرط پاڼه د (۱۰۰۰) افغانیو په بدل کې پرته لــه بیرته ګرځولــو او تضمین نقدا اخیســتل کیږي.

کاپیسا ولایت

# رغونه اونیزه

## د ولایتي او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست




### د کابل ولایت قره باغ ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ مدیریت له لوري د جمعې لمانځه پر مهال د بازار نظم لپاره لاسي پلورونکو او دوکاندارانو ته د ذهنیت جوړونې په هکله خبرتیا ورکړل شوه

**محترمو دوکاندارانو او لاسي پلورونکو!**

لکه څنګه چې تاسو ته معلومه ده، د سرکونو غاړو ته د دوکانونو توسعه او د لاس پلورونکو فعالیتونه د سرکونو بندېدو او د خلکو د تګ راتګ د ستونزو لامل کېږي. دا کار نه یوازې مسافرین ځوروي، بلکې د ترافیکي بندښت سبب هم ګرځي، چې پایله کې عام خلک زیان ویني.

له ټولو قدرمنو دوکاندارانو او لاسي پلورونکو څخه مو هیله دا ده چې د ښاروالۍ له لارښوونو سره سم عمل وکړي، ترڅو زموږ ښار او بازار د ټولو لپاره ښه ځای شي.

د قره باغ ښاروالۍ درنو ښاریانو ته سپارښتنې.

د ښاروالۍ له خوا ټاکل شوي ځایونه وکاروئ.

د دوکانونو توکي د سرک پر ځای، د خپل دوکان دننه کیدئ.

د خلکو د تګ راتګ لپاره مناسب ځای پرېږدئ.

د ښاروالۍ کارکوونکو سره همکاري وکړئ.

کابل قره باغ

### افتتاح و بهره‌برداری از دو دروازه ورودی شهر هرات




هرات

دو باب دروازه ورودی شهر هرات با هزینه یک میلیون و هشت صد هزار افغانی در ساحات "پولیس راه اسلام‌قلعه" و "هرات – تورغندی" افتتاح و به بهره‌برداری سپرده شد.

مولوی نعمت الله رحیمی شاروال ولسوالی انجیل هرات می گوید که این دروازه‌ها مجهز به سیستم روشنایی و دوربین های مدار بسته هستند که در راستای تأمین امنیت موثر تمام خواند شد.

شاروال انجیل از همکاری سرمایه گذاران در زمینه آبادی کشور و ساخت نمادهای زیباسازی شهر استقبال کرده و از آنان می‌خواهد که در فصل نهال‌شانی نیز با اداره شاروالی همکاری کنند.

### د خوست ښاروالۍ کارکوونکو ته د کاري پلان جوړونې ورکشاپ ترسره شو

د خوست ښاروالۍ اړوند کارکوونکو ته د کاري پلان جوړونې په برخه کې یو ورځنی روزنیز ورکشاپ ترسره شو. په یاد ورکشاپ کې د پلان جوړونې اساسي اصول، د موخو ټاکل، د ستونزو تحلیل او د اغېزمن تطبیق لارې چارې وښودل شوې.

یاد ورکشاپ د ښاروالۍ سوانحو او ارزونې مدیر له لوري وړاندې شو چې موخه یې د ښاروالۍ کارکوونکو د کاري پلان جوړونې سره بلدتیا، وړتیاوو لوړول او د خدماتو وړاندې کولو بهیر لا اغېزمن کول وو.

د یادونې وړ ده، چې ګډونوالو یاده روزنه د دوی په ورځني کارونو کې مهمه یاده کړه او د ښاروالۍ خدماتو کیفیت ته به وده ورکړي.

خوست

### شنبه بازار ده باباعلی توسط شاروالی محمودراقی کنترول و نظارت گردید

به سلسله کنترول و نظارت از بازار ها، امروز شنبه کارمندان شاروالی محمودراقی ولایت کاپیسا از شنبه بازار ده باباعلی کنترول و نظارت بعمل آوردند.

قابل تذکر است که این نظارت و کنترول در بخش های باز نگهداشتن پیاده روها، جلوگیری از آلودگی صوتی، جلوگیری از تخلفات شهری، استفاده از سنگ های معیاری در خرید و فروش و چندین موارد مهم دیگر صورت گرفت.

کاپیسا

### فراه ښاروال د ولایت مقام مخې ته د جوړېدونکې دروازې له رغنیزو چارو څخه لیدنه وکړه.



فراه

فراه ښاروال ښاغلي مفتي سردار محمد مرصاد، نن د ولایت مقام مخې ته د جوړېدونکې دروازې د رغنیزو چارو څخه لیدنه وکړه. نوموړي لیدنې پرمهال د دې پروژې پر کیفیت او چټکتیا ټینګار وکړ او مسؤلینو ته یې لازمې لارښوونې وکړې.

ښاروال ښاغلي مرصاد وویل چې یاده دروازه د یو تن ملي سوداګر، ښاغلي محمد شاه فراهي، له لوري جوړېږي، او زیاته یې کړه چې د فراه ولایت د ښېرازۍ او پرمختګ لپاره د خصوصي سکتور ونډه حیاتي ارزښت لري.

نوموړي له نورو ملي سوداګرو، خیریه بنسټونو، څخه هم وغوښتل چې د فراه ولایت د بیارغونې کې فعاله ونډه واخلي او د هېواد د پرمختګ لپاره خپل ملي مسؤلیت ادا کړي.

### د پل علم ښاروالۍ له لوري د سړکونو او پلیو لارو جارو کول دوام لري




لوګر

د پل علم ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت هڅانده کارکوونکو لخوا په منظمه توګه د پل علم ښار اړوند په بېلابېلو برخو کې د سړکونو او پلو لارو جارو کولو چارې دوام لري.

د یادو چارو پر دوام رخت مارکېټ، کوچیانو لیسې او د کابل-ګردیز عمومي سړک ته څېرمه پلې لارې جارو او پاکې شوې، او ددې ترڅنګ خاورې او کثافات یې تر راټولو وروسته له ښار څخه لرې ټاکلي ځای ته انتقال شول.

نارنجي اغوستونکي هره ورځ د پل علم ښار له بېلابېلو برخو د کثافاتو په راټولولو، د لښتیو په پاکولو او د سړکونو او پلیو لارو په جارو کولو بوخت وي.

### اداري کمپلکس مخې ته د لښتیو چارې بشپړې او د سړک چارې پیل شویدي.



خوست

د خوست ښاروالۍ اړوند شپږمې ناحیې مربوط د اداري کمپلکس مخې ته روانه پروژه، چې په کې د دویم سړک او لښتیو اساسي جوړښت شامل دي، د لښتیو جوړونې چارې یې بشپړې شوې او د سړک جوړیدو کارونه یې هم پیل شویدي.

یاده پروژه شاوخوا ۲۱ نیم میلیونه افغانیو په لګښت روانه ده، چې د ماشینرۍ ترڅنګ پکې ګڼ کاریګر په کار بوخت دي.او چارې یې د بریڅت بلډر شرکت له خوا پرمخ وړل کېږي.

د یادونې وړ ده، چې ښاروالۍ د ټولو پروژو چارې له نږدې څارې او هېڅ‌ا ته به اجازه ورنه کړي، چې د ښاروالۍ قرارداد خلاف کار وکړي.

### د داوطلبۍ خبرتیا !

نیټه : ۲۱/ رجب المرجب/ ۱۴۴٦

کندهار ښاروالي غواړي چې د ښار په مختلفو ناحیو کې د استنادي دیوالونو په اساسي ډول جوړولو پروژې قرارداد عقد وکړي.

ټول هغه شرکتونه چې د یاد قرارداد د سرته رسولو وړتیا ولري، کولای شي چې خپل غوښتنلیکونه د ۱۴۰۳ مالي کال د دلوي میاشتي د ۱۳ نېټې څخه بیا د همدې میاشتې تر ۲۲ نېټې د شنبې تر ورځې پورې د کندهار ښاروالۍ د تدارکاتو او قراردادونو آمریت ته وسپاري او وروسته دې د ذکر شوې پروژې تخنیکي اسناد او د آفر فورمې د مسؤول کس څخه ترلاسه، د تدارکاتو آمریت ته خپل آفرونه تر ټاکل شوې نېټې پورې وسپاري.

داوطلبي یې د ۱۴۰۳ مالي کال د دلوي میاشتې پر ۲۳ نېټه د سې شنبه په ورځ د سهار پر لس بجې د تعین شوي هیئت په حضور کې د تدارکاتو او قراردادونو آمریت کې ترسره کیږي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره په لاندې شمېرو اړیکه ونیسي.

۰۷۰۴۷۰۱۷٦۰/ ۰۷۰۷۹۷۰۷٦۰

کندهار ولایت

رغونه اونیزه

د ولایتي او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


## د جلال آباد ښار اصنافو او هټۍ والو خونې استازو ته د ښاري پاکوالي او ماشوم ساتنې په موخه پریزینټیشن وړاندې شو



جلال آباد

د جلال آباد ښاروالۍ د ښاري حکومتولی په همغږۍ د کار او ټولنیزو چارو ریاست له لوري د جلال آباد ښار اصنافو او هټۍ والو خونې استازو ته په ښار کې د ښاري پاکوالي، ښاري نظم او ماشوم ساتنې په موخه پریزینټیشن وړاندې شو.

په یاده غونډه کې د جلال آباد ښاروالۍ مرستیال مولوي محمد اسحاق سعید، د ښاري حکومتولۍ رئیس مولوي سیف الرحمن شینواری، د مجالسو او شوراګانو آمر حشمت الله خان، د جلال آباد ښار د اصنافو رئیس حاجي بازمحمد خوانمل، کار او ټولنیز چارو د ټولنیز خوندیتوب لوی مدیر محمد هارون حامد او د اصنافو استازو ګډون کړی وو.

مرستیال ښاروال وویل: ښار زمونږ ټولو ګډ کور دی. د جلال آباد ښار ټول اصناف باید د ښاري نظم او ښاري پاکوالي په برخه کې بشپړه همکاري وکړي. په ماشومانو باندې باید شاقه کارونه ترسره نشي.

د حکومتولی رئیس د کار او ټولنیزو چارو ریاست له استازو مننه وکړه چې د ماشوم ساتنې په برخه کې یې اصنافو سره ترتیب شوی پریزینټیشن شریک کړ.

د جلال آباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې د ښاري نظم او ښاري پاکوالي په موخه د ښار له بېلابېلو اصنافو سره ناستې ترسره کړي ترڅو د ښاروالۍ له کارکوونکو سره همکاري وکړي.

## حدود یک هزار موتر کثافات در هفته نخست حشر بزرگ در مزارشریف انتقال شد


مزار شریف

به اساس هدایت مولوی محمد کاظم طارق، شاروال شهر مزارشریف به منظور شگوفایی و ایجاد فضای پاک و سالم برای شهروندان، حشر بزرگ جهت پاک کاری و انتقال زباله های که طی دو دهه گذشته در نواحی دوازده گانه شهر مزارشریف انبار شده بود آغاز گردید.

در هفته نخست حشر مذکور حدود یک هزار موتر کثافات از ساحات نواحی چهارم، هفتم، هشتم و نهم شهر مزارشریف جهت شگوفایی و بهبود وضعیت تنظیفی شهر جمع آوری و به دور از شهر انتقال گردید.

## کندهار کې د ترنک پله څخه شروع بیا تر میدان هوايي پورې د احمد شاهي سرک سمسورولو هڅې


کندهار

د کندهار ښار د ښکلا او سمسورتیا پراخولو په موخه کندهار ښاروالۍ دا ځل د ترنک پله څخه بیا تر هوايي میدان پورې د احمد شاهي سرک څخه د اضافه خاورې د ایستلو هڅې پیل کړي دي.

د دې کړنې اساسي موخه دا ده چې پر ګلدان اېښودل شوې نهالونه او زینتي ګلان په منظم ډول اوبه ښې او وده وکړي، ترڅو د ګلدان اضافي اوبه او خاوره سرک ته ونه لوېږي، دا کړنه د اوبو ضایع کولو او د تخریب مخنیوي په پار ترسره کېږي.

د کندهار ښاروالۍ اړوند د سرسبزۍ امریت په پلان کې لري، چې د یاد ګلدان لپاره د اوبو د مناسب وېش لپاره د قطره يي اوبو سیستم هم فعاله کړي.

## د خوست متون مېنه کې د ۸ پلچکونو د جوړولو چارې بشپړې شوې


خوست

د خوست ښاروالۍ له لوري د پنځمې ناحیې متون مېنې په مسیر، د ورغي دوهم لین سرک د اوبو لښتیو د جوړېدو ترڅنګ، د ۸ پلچکونو چارې چې پکې سیخ ګول کارول شوي دي، د منظم نظارت لاندې بشپړې شوې.

د یادونې وړ ده چې اوس مهال د یاد سرک د خوندیتوب په موخه د لښتیو جوړولو چارې د بشپړېدو په حال کې دي، ترڅو د باراني اوبو له ګواښ څخه خوندي شي.

## د بازار د تنظیم په پار ټاکل شوې کمېټې له میدان ښار بازار څخه ځارنه ترسره کړه

د میدان ښار ښاروالۍ له لوري د میدان ښار بازار د تنظیم په موخه ټاکل شوې کمېټې د غړو له لوري په میدان ښار بازار کې د کابل هـدې د موټرونو د تنظیم تر څنګ مېنې خلور لارې ته څېرمه د فلزي غرفو د هټۍ والو او یادو غرفو ته څېرمه د وچې مېوې پلورونکو تر منځ د ساحې پر سر راپورته شوې ستونزه حل شوه.

د یادې کمېټې له لوري په میدان ښار بازار کې د بازار د تنظیم په موخه په ورځني ډول کړنې ترسره کېږي او د هټۍ والو، لاس پلورونکو، موټر چلونکو ستونزو ته پر وخت رسیده ګي کېږي.

د ښاروالۍ ریاست له لوري ټولو ښاریانو، موټر چلونکو او په ښار کې فعالیت لرونکو ټولو اصنافو ته سپارښتنه کېږي چې د ښاري اصولو په پام کې نیولو سره خپلې کړنې ترسره کړي او د ښار نظم ته پاملرنه وکړي.

میدان وردګ

## روزګان: د ترینکوټ ښاروالۍ ریاست د خصوصي رسنیو سره یو هوکړه لیک لاس لیک کړ



روزګان

د روزګان ترینکوټ ښاروالۍ د خپلو فعالیتونو د عامه انعکاس او د ښاریانو سره د لا ښه اړیکو جوړولو په موخه له خصوصي رسنیو سره د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په همکاري یو هوکړه لیک لاسلیک کړ.

چې پر مهال یې روزګان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست رئیس مولوي رحمت الله (ریحان) وویل د دې هوکړه لیک موخه دا ده چې د ښاروالۍ خدمات، پرمختیايي پروژې او د ښاریانو ستونزې خلکو ته ورسول شي، ترڅو شفافیت ته وده ورکړل شي او د عامه پوهاوي کچه لوړه شي. د هوکړې له مخې، خصوصي رسنۍ به د ښاروالۍ رسمي خبرونه، راپورونه او مهم پیغامونه خپروي، ترڅو ښاریان له پرمختګونو او خدمتونو څخه خبر شي.

د ترینکوټ ښاروالۍ ریاست رئیس مولوي عبدالرشید هدایت الله وویل، دا اقدام به د ښاریانو او ښاروالۍ ترمنځ واټن کم کړي، د خدماتو کیفیت ته به وده ورکړي او خلکو ته به د ښې حکومتولۍ په رامنځته کولو کې اسانتیاوې برابرې کړي؛ دا ډول همکاري د ښاري پرمختګ لپاره مهمې ګڼل کېږي، ځکه چې د شفافیت له لارې خلک کولای شي د دولتي خدماتو ارزونه وکړي او خپل نظریات له مسؤولینو سره شریک کړي.

## جلال اباد کې د تخنیکي او سکتوري چارو د رئیس په مشرۍ د نیالګیو کښنولو او تنظیفاتي خدماتو په موخه ناسته ترسره شوه



جلال آباد

د جلال اباد ښاروال مولوي نقیب الله طارق په ځانګړې هدایت د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس په مشرۍ د تنظیف او سرسبزۍ امر، د ځار او ارزونې امر او نورو مسؤولینو د راتلونکي پسرلي موسم او د ښار د سرسبزۍ په موخه د نیالګیو د کښنولو په موخه ناسته ترسره کړه.

د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس وویل هڅه مو باید دا وي چې د ښار په مهمو او عمومي ځایونو او ګلدانونو کې زینتي او موسمي بوټي کښنوو ترڅو ښاري ښکلا لا زیاته شي.

د تنظیف او سرسبزۍ امر وویل د جلال اباد ښاروالۍ له داخلي بودجې څخه به تر راتلونکي پسرلي پورې شاوخوا ۱۵۰۰۰ زینتي او غیر زینتي بوټي د نهه ګونو ناحیو په عمومي ګلدانونو او نورو مناسبو ځایونو کې کښنوو.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې د ښاري ښکلا او زرغونتیا په موخه په نهه ګونو ناحیو کې زینتي او غیر زینتي بوټي کښنوي.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# رغونه اونیزه

د ولایتي او ولسواليو ښـــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## غزني ښـــاروالۍ ریاســـت له لوري د ېبلابېلو اصنافو د فعالیت له څرنګوالي څخه څارنه وشوه

د ښـــاري نظم کارکوونکو له لوري د غزني ښار په بازارونو کې د بېلابېلو اصنافو د فعالیت له څرنګوالي څخه څارنه وشوه او سرغړونکو ته اړیني سپارښتنې وشوې.

د ښـــاري نظم مدير په دې اړه وويل غزني ښـــار سکروټ بازار، بزازی، کلاه ســـبز، نوباد، پشـــتون اباد او یو شمېر سیمو کې صنفي جوازونو، حفظ الصحې، د ناقانونه رغونو څارنه وشوه.

نومـــوړي زیاته کړه، چې د څارنو په لړ کې فعالیت کوونکو ته سپارښتنه وشوه ترڅو په خپل فعالیت سره د پلیو لارو او سرکونو د بندېـــدو لامل ونه ګرځي او پر ګرځنده پلورونکو هم ټینګار وشـــو ترڅو په ښـــار کې د ګـــڼې ګوڼې او بې نظمۍ له رامنځته کولو څخه په جدي توګه ډډه وکړي.

ښاروالۍ ریاست غزني ښـــار کې هڅه کوي ترڅو ښاري اصول په ټولو ښاريانو باندې په مساوي توګه پلي کړي.

غزني

## اعلان داوطلبی

تاریخ: ۲۱/ رجب المرجب/ ۱۴۴۶

شـــاروالی محمودراقی ولایت کاپیسا در نظر دارد تا یک باب رســـتورانت تازه اعمار شـــده خویش واقع پـــارک تفریحی صیاد را به کرایه بدهـــد بنأ آن عده افـــراد و اشـــخاصیکه خواهش به کرایـــه گرفتن آنرا داشته باشند درخواستی های خویش را بعد از نشر اعـــلان الی مـــدت ۲۱ روز به ریاســـت شـــاروالی محمودراقی ســـپرده و شرطنامـــه را دربدل ۱۰۰۰ افغانی بدون مستردی اخذ نمایند تضمین نقد اخذ میگردد

ولایت کاپیسا

## جلســـه با اهالی گذر هـــای علی خیل، قلعه ســـفید و عاشورخیل توسط شاروالی محمودراقی برگزار شد



کاپیسا

جلسه به منظور حل مشـــکلات اهالی گذر های علی خیل، قلعه سفید و عاشورخیل تحت رهبری مولوی عبیدالله حسام، شاروال محمودراقی با اشتراک مدیریت عمومی حکومتداری شـــهری و اهالـــی گذر هـــای یاد شـــده در تالار شـــاروالی محمودراقی برگزار گردید.

شـــاروال محمودراقی حاضرین مجلس را خوش آمدید گفته؛ سپس باشندگان گذر های مذکور مشـــکلات و پیشنهادات خویش را مطرح نموده که از طرف رهبری شاروالی در راستای رفع مشکلات ایشان وعده همکار داده شد.

## برنامه آموزشـــی تقویه فرهنگ شهرنشـــینی در ناحیه دوم شهر بامیان دایر شد

به منظور بلند بردن ســـطح آگاهی عامـــه، تقویه فرهنگ شهر نشـــینی و تعمیم مشارکت شـــهروندان در تصامیم شـــهری برنامه آموزشی و آگاهی دهی از قوانین و مقررات شهری و استماع مشکلات شـــهروندان در دفتر مدیریت ناحیه دوم شهر بامیان با اشتراک شهروندان، وکلای گذر، متنفذین، جوانـــان و نمایندگان اصناف شـــهر به ابتکار شاروالی بامیان دایر شد.

در جلسه در رابطه به فرهنگ شهر نشینی و مدیریت زباله های شـــهری توســـط مدیر اجتماعی و فرهنگی و مدیر مجلس و شوراهای شاروالی بامیان به اشتراک کنندگان معلومات ارائه گردید.

در ادامه مشکلات شـــهروندان استماع گردید و همچنان تصامیم لازم و راهکارهای مؤثر در راســـتای حل مشکلات شهروندان و بهبود خدمات شـــهری به صورت مشارکتی اتخاذ شد.

بامیان

## از روند اکتشاف سنگ کرومایت ساحه تاتره ولسوالی کوه صافی نظارت صورت گرفت

کمیته محافظت معادن از روند دوره اکتشاف شرکت علم شـــاه بابا، واحدلاامارات و طیب زابـــل از جریان قرارداد سنگ کرومایت ساحه تاتره ولســـوالی کوه صافی ولایت پروان بازدید و نظارت نمود.

این کمیته تحت ریاســـت مولوی عبدالقـــدوس نعمانی رئیس معـــادن ولایت پروان با اعضـــای کمیته محافظت معـــادن و کمیته بازدیـــد معادن با اشـــتراک نمایندگان قوماندانی امنیه، مســـتوفیت، اســـتخبارات، شـــاروالی چاریکار، ریاســـت زراعت و مالداری، ریاســـت صنعت و تجارت، حوزه فرعـــی دریایی غوربنـــد اقتصاد و محیط زیست که از شرکت های متذکره از نزدیک بازدید و نظارت نمودند.

در جریـــان بازدید و نظارت از خدمات انجام شـــده مانند احـــداث سرک برای مفاد محلی، انجـــام خدمات محیط زیســـتی، صحت ایمنی... کارکردهای آنهـــا که مطابق پروپوزل انجام شـــده است قدردانی و جهت کارهای بهتر شرکت‌ها هدایات لازم داده شد.

همچنـــان شرکت هـــای متذکره کار اکتشـــاف را سرعت بخشـــیده و هفتـــاد درصد کار های خویـــش را به اتمام رسانیده اند .

قابل ذکر اســـت که کمیته محافظت معـــادن و بازدید از معادن در تلاش است برای شرکت‌ها سهولت ایجاد گردد که طبـــق قانون معادن با معیار هـــای جهانی، معادن را اکتشاف و استخراج کنند.

پروان

## شاروالی سرپل از شهروندان می‌خواهد که از انداختن کثافات در گوشه و کنارسرک ها خود داری نمایند

کارمندان تنظیف و سرسبزی شاروالی شهر سرپل همواره تلاش می‌نمایند تا کثافات را از نقاط مختلف شهر جمع آوری نموده و بیرون از شهر انتقال دهند. مدیریت تنظیف و سرسبزی شاروالی شهر سرپل از شـــهروندان شهر سرپل میخواهد که از انداختن کثافات در آبرو ها و گوشـــه کنار سرک ها خودداری نموده و به جاهای که از طرف رهبری تعین شده بیاندازند.

سرپل

## فراه ښـــاروال د میرویس نیکه پارک ختیځ لوري ته د سړک رغنیزې چارې وڅارلې


فراه

فراه ښاروال ښـــاغلي مفتي سردار محمد "مرصاد"د لومړۍ ناحیـــې اړونـــد میرویس نیکـــه پـــارک ختیځ لـــوري ته د جوړېدونکي ســـړک له رغنیزو چارو څخه داسې مهال لیدنه وکړه، چې د دې ولایت د علماوو شـــورا رئیس ښـــاغلي شیخ محمد امین روحاني، د فراه ښـــاروالۍ د نظارت امر، ښاغلي شاکر مولوي ، د انجنیرۍ عمومي مدیر او د قراردادي شرکت مسؤلینو هم ملتیا کول.

ښـــاروال ښـــاغلي مرصاد د کار د پرمختګ ارزونـــه وکړه او قراردادي شرکت ته یې سپارښـــتنه وکړه، چې ټولې رغنیزې چارې بایـــد د انجنیرۍ معیارونو مطابـــق او په ټاکلي وخت بشپړې شي.

د یادونې وړ ده، چې اوس مهال په ښـــار کې د ښـــاروالۍ له لوري نیږدې یولس پروژو چارې رواني دي، چې په بشـــپړېدو سره به د ښاریانو ستونزې حل او ښاري ښکلا زیاته شي.

## اطلاعیه!

به اســـاس هدایت کتبی ریاســـت عمومی انســـجام امور شـــاروالی‌ها مبتنی بر فیصله وزارت عدلیه ا.ا.ا، به آگاهی تمامی دارندگان جواز رهنمای معاملات، موترفروشـــی‌ها، ادارات، نهادهـــا و هموطنـــان عزیز در سراسر کشـــور به خصوص باشندگان شهر میمنه مرکز ولایت فاریاب رسانیده می‌شـــود که انجام معاملات اعم از خرید و فروش، بیع وفا (جایزی)، کرایی جایدادها و خرید و فروش موتر (وســـایط نقلیه) در اصل ستەهای چاپ شـــده شرکت امارتی طبع مصئون افغانستان که از سوی ریاست امور رهنمای معاملات وزارت عدلیه به دارندگان جوازنامه رهنمای معاملات توزیع می‌گردد مدار اعتبار بوده و انجام معاملات در سایر اوراق و ســـتەهای که از طریق رهنمای معاملات انجام می‌گردد از اول حمل سال ۱۴۰۴ مدار اعتبار نمی‌باشد.

همچنـــان از تمامـــی هموطنـــان، ادارات و نهادهـــا خواهشمندیم تا ستەهای معاملات که به دسترس ایشان قرار می‌گیرد و مهر تائیدی شعبه مربوط وزارت عدلیه را دارا نبوده و یا کاپی، اســـکن اوراق خودساخته و مشکوک می باشد، غرض اطمینان از صحت و سقم آن در مرکز به ریاست امـــور رهنمای معاملات وزارت عدلیه واقـــع دارالامان و در ولایات به ریاست عدلیه ولایت مربوط ارائه دارند.

در اخیر از تمامی دارنـــدگان جوازنامه رهنمای معاملات و موتر فروشی‌ها در مرکز و ولایات خواسته می‌شود الی اخیر سال جاری ستەهای قبلی را که در دسترس دارند همراه با اصل جوازنامه رهنمای معاملات در مرکز به ریاســـت امور رهنمای معاملات وزارت عدلیه واقع دارالامان و در ولایات به ریاست عدلیه ولایت مربوط غرض باطل نمودن اوراق سفید آن حاضر نموده و بعد از تصفیه وجایب مالیاتی سال ۱۴۰۲ ستەهای جدید را اخذ نمایند.

ولایت فاریاب

رغونه
اونیزه

د ولایتي او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## د مزارشریف ښار دربیمې ناحیې کې د کبانو او خوراکي توکو هټۍ یو شمېر خاوندان ترسره شوه


مزار شریف

د مزارشریف ښاروالۍ د مارکېټونو تنظیم او پراختیا امریت له لوري د ښــار دربیمې ناحیې اړونــد د کبانو او خوراکي توکو هټۍ یو څخــه د حفظ الصحــې، نرخ پاڼې، ښــاري نظم ټینګښت، تاریخ تېره او بې کیفیتــه توکو پلورلو مخنیوي په موخه خارنه ترسره شوه.

د خارنې پر مهــال د کبانو صنف هټۍ والــو ته د نرخ پاڼې تطبیق په موخه ټینګار او هغه هټۍ چې ښاري نظم یې ګډوډ او پلیو لارې یې بندې کړې وې لازمي توصیې او لارښونې ورته وشوې.

همدارنګه د خوراکي توکو هټۍ والو ته سپارښــتنه وشــوه د تاریــخ تېره او بې کیفیتــه توکو پلورلو څخــه ډډه وکړي، د سرغړونې په صورت کې به قانوني او اصولي چلند سره مخامخ شي.

## خوست کې د غصب مخنیوي کمېسیون په لومړۍ او دویمه ناحیه کې نظارت ترسره کړ

د خوســت ولایت د غصب مخنیوي کمېسیون، چې د یاد ولایت د کرنې او مالدارۍ رئیس مولوي شبیر محمد ذبیح یې مشري کوي، د ځینو غړو؛ ښــاروال قاري بســم الله بلال، د ښــار او کور جوړونې رئیس او د ښــاروالۍ ځینو امرینو په شــتون کې، د ماســټر پلان او تفصیلي پلانونو مطابق، په لومړۍ او دربیمه ناحیه کې د پلان شــویو او شنو ساحو له څمکو لیدنه وکړه.

یاد کمېسیون ته د ښاروالۍ امرینو له لوري په یادو ناحیو کې تولې هغه ســاحې په نښه شوې، چې ځینې یې پلان شوي دي او ځینې نورې یې د شنو ساحو په نوم یادېږي، خو اوس مهال یا غصب شوې دي او یا ورباندې کار نه دی شوی.

د یادونې وړ ده، چې د غصب مخنیوي کمېسیون د خپلو اجراآتو لړۍ جاري ساتلې او د غصب شویو ځمکو د بېرته ترلاسه کولو او د هغو ځمکو په نښه کولو کې خپل فعالیت ته دوام ورکوي چې لا هم پلان کې نه دي شاملې.

خوست


## د مزارشریف ښار لومړۍ او دوهمې ناحیو کې د کثافاتو لېږدولو چارې رواني دي

د مزارشریــف ښــاروالۍ د تنظیف او سرســبزۍ امریت کارکوونکو له لوري د مزارشریف ښــار پاکوالي او ښېرازۍ په موخه د ښار لومړۍ او دوهمې ناحیو کې د لښتیو څخه ایستل شوي کثافات راټول او لېږدول شول او چارې یې په منظم ډول رواني دي.

د ښاروالۍ تنظیف او سرســبزۍ امر مولوي اختر محمد هنر له ښاریانو غوښتنه کوي، د ښار پاکوالي او صفایي په موخه د تنظیف او سرسبزۍ کارکوونکو سره بشپړه مرسته وکړي ترڅو د یو اباده او ښېرازه ښار درلودونکي واوسو.

مزار شریف

## خوست ښار کې د نانوایانو مسؤلینو ته خبرداری


خوست

خوســت ښــاروالۍ د مارکېټونــو تنظیم عمومــي مدیریت مســؤولینو له لوري په ښار کې د نانوایانو صنف مسؤولینو ته وروســته له هغې جدي خبرداری ورکړل شو، چې په وروستیو کې یو شمېر نانوایانو د ډوډۍ تاکلي وزن له ۲۱۰ ګرامو څخه ۱۹۰ ګرامو ته په خپل سر کم کړی و. دوی د دې کار لامل د بازارونو په اوږو بیو لوړېدل یاد کړي دي.

یاد مدیریت په وروســتي ځل دوی ته جدي خبرداری ورکړ او ترې وغوښتــل شول، چې د ډوډۍ وزن به ۲۱۰ ګرامه وي او هېڅوک نشي کولای چې د ډوډۍ وزن کم کړي، تر هغه چې نوې پرېکړه ونه شي.

د یادونې وړ ده، که له دې وروســته چا په خپل سر یاد عمل ترسره کړ، له قانوني چلند سره به مخ شي.

## د جلال آباد ښار له لومړۍ ناحیې څخه د کثافاتو انتقال چارې ترسره شوې.


جلال آباد

د جلال آباد ښــاروالۍ د تنظیفاتي خدماتو په دوام د تنظیف او سرســبزۍ آمریت له لوري د ښار لومړۍ ناحیې له لومړي ګذر نه د ویالو راټول شوو کثافاتو د انتقال چارې ترسره شوې.

د تنظیف او سرسبزۍ آمریت په چوکاټ کې هره ورځ د ښار له نهه ګونو ناحیو نه په اوســط ډول ۸۵ موټره کثافات مناسبو ځایونو ته انتقالیږي.

د جلال آباد ښــاروالۍ رهبري له تاسو درنو ښاریانو غوښتنه کوي چې د ښار په پاکوالي کې د ښاروالۍ له کارکوونکو سره بشپړه همکاري وکړئ.

## د جلال آباد ښــار اوومې ناحیې په عمومي ســړکونو د ګلدانونو د صفایۍ چارې جریان لري

د جلال آباد ښــاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ آمریت له لوري د اوومې ناحیې پر عمومي سړکونو د ګلدانونو د صفایۍ، نامناسبو بوټو پاکول او د بوټو د ببیښونو د خاورو پاسته کولو کارونه جریان لري.

د تنظیف او سرسبزۍ آمر حضرت علي آغا وویل :دا چې د پسرلي موسم رانږدې دی د تنظیف او سرسبزۍ ډېرۍ کارکوونکي مو د بوټو د قیچي کارۍ او صفایۍ په برخو کې په کارونو ګمارلي.

د جلال آباد ښاروالۍ د ښکلا او سرسبزۍ په برخه کې په نه سترې کېدونکي هلې ځلې کوي.

جلال آباد

## د دریمې ناحیې دریم ګذر لپاره د ګذر وکیل وټاکل شو

میدان وردګ

د میدان ښار ښــاروالۍ له لوري د دریمې ناحیې دریم ګذر لپاره د ګذر وکیل وټاکل شو.

د میدان ښــار ښــاروالۍ اړوند د دریمــې ناحیې دریم ګذر (مامورینو پروژې او قول هزاره) د اوسیدونکو په غوښتنه د ګذر وکیلانو د تعین او عزل د تګلارې سره ســم د علماوو شورې او امنیتي ارګانونو په همغږۍ ښــاغلی عبدالســمیع قیومي د عبدالواسع زوی چې د ۱٤ پاس تر کچې زده کړې لري د یاد ګــذر د ګــذر وکیل په توګــه تعیــن او تیره ورځ د ښــاري حکومتولــۍ لــوی مدیریت د مســؤولینو له لــوري د ګذر اوسیدونکو ته رسماً د ګذر وکیل په توګه ور وپیژندل شو.

## د خوســت ښــار په مرکزي کانال کې د برېښنایي پایو چارې پیل شوې.


خوست

د خوســت ښــاروالۍ له پراختیایي بودیجې څخه، د ښار په مرکزي لوی کانال، چې د ښار په زړه تېر شوی، د دوشنبې په ورځ د پخــواني ملکي روغتون څخه تر لوړپوړو ودانیو پورې د روښنایۍ پروژې چارې پیل کړې، او د پایو د نصبولو په موخه، عملاً په ساحه کې کار پیل شو.

د یادونې وړ ده چې اوس مهال په ښــار کې د ښــاروالۍ له لوري د روښنایۍ پر دوو پروژو کار روان دی، چې ښاریانو پرې خوښي څرګنده کړې او د یادو پروژو په تکمیل سره به د ښار مرکزي برخې د شپې له خوا روښانه شي، او د کاروباریانو لپاره به د فعالیت وخت زیات شي.

## دغوربند ښــار بازار او شفا خانې څخه کثافات انتقال شول

د غوربند ښــاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت له لوري د ســیاګرد بازار له ځینې برخو او شــفا خانه څخه راټول شوي کثافات انتقال شول.

د ښاروالۍ آمریت د تنظیف مدیریت له لوري په ورځني ډول دولتي اداراتو په ګډون د ښار له مختلفو برخو څخه راټول شوي کثافات خوندي ځای ته د دفن په موخه انتقالیږي.

پروان

رغونه اونیزه

د ولایتي او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

دافغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## عواید شاروالی ایبک افزایش چشمگیر یافته است



سمنگان

مسئولان ریاست شاروالی ایبک ولایت سمنگان می‌گویند که میزان عواید این اداره در سال جاری نسبت به سال گذشته ۲۰ درصد افزایش یافته است.

محمد رحیم خرم، مدیر تحصیلی عواید ریاست شاروالی ایبک گفت که در نتیجه تلاش های مستمر و برنامه ریزی های دقیق، این اداره در سه ربع اول سال جاری موفق به جمع‌آوری ٤٤ میلیون و ٦٦٢ هزار افغانی عواید شده است و پیش‌بینی می‌شود که در ربع چهارم سال جاری بیش از ۱۵ میلیون افغانی دیگر نیز جمع آوری گردد.

وی گفت که این عواید از منابع مختلف از جمله مارکیت‌ها، دکاکین، عواید متفرقه، لوحه‌های اعلانات، تکس‌های منازل رهایشی و دروازه‌های ورودی شهر جمع‌آوری شده است.

آقای خرم همچنین یادآور شد که در سال گذشته این اداره بیش از ٤٠ میلیون افغانی عواید جمع‌آوری کرده بود، اما پیش‌بینی می‌شود که این عواید تا ختم سال جاری ۱٤٠۳ به بیش از ٥۹ میلیون افغانی میرسد.

وی میگوید که میزان عواید جمع آوری شده در مقایسه با سال گذشته ۲۰ درصد افزایش را نشان میدهد.

## پروژه کانکریت ریزی سرک کارته ظهرالدین فاریابی آفرگشایی شد




مزار شریف

جلسه آفرگشایی پروژه کانکریت ریزی سرک کارته ظهرالدین فاریابی اعتبار از سرک قیر مزار ـ شبرغان الی سرک قیر مزار ـ دهدادی در مربوطات ناحیه چهارم شهر به سرپرستی معاون شاروالی در حضور نمایندگان شرکت های داوطلب دایر گردید.

مولوی محمد نسیم عابد، معاون شاروالی مزارشریف حاضرین مجلس را خوش آمدید گفت، سپس در رابطه به اصول و مقررات آفرگشایی معلومات ارائه نمود و از مسؤولین شرکت های داوطلب خواست تا اصول آفرگشایی را مراعات نمایند.

آفرهای سر بسته که از طرف شرکت های داوطلب به هیئت مؤظف آفرگشایی تسلیم داده شده بود توسط معاون شاروالی شهر مزارشریف باز گردید؛ بعد از بررسی قیمت های ارائه شده، شرکت سرک سازی خورشید وطن با ارائه قیمت نازل برنده آفرگشایی شناخته شد.

## د فراه د ښاري حکومتولی امر د ځلورمې ناحیې د ګذر وکیلانو سره مشورتي ناسته ترسره کړه




فراه

د فراه ښاروالۍ د ښاري حکومتولي امر ښاغلي مولوي محمد یوسف سجاد، د ځلورمې ناحیې د ګذر وکیلانو سره داسې مهال مشورتي ناسته ترسره کړه، چې د یادې ناحیې مدیر هم ګډون درلود.

د ناستې په پیل کې د ګذر وکیلانو د ښاروالۍ د فعالیتونو ستاینه وکړه او خپلې غوښتنې او ستونزې یې د ښاري حکومتولی له امر سره شریکې کړې.

د ښاري حکومتولي امر ښاغلي مولوي محمد یوسف سجاد وکیلانو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې د ګذر وکیلان د ښاروالۍ او خلکو ترمنځ د پل حیثیت لري. نوموړي ټینګار وکړ چې وکیلان باید د خلکو ستونزو ته پر وخت رسېدنه وکړي او ستونزې یې د ښاروالۍ ریاست له رهبرۍ سره پر وخت شریکې کړي.

دغه راز ښاغلي سجاد د راغلیو وکیلانو څخه د ښار پاکوالۍ، ښاري نظم، عوایدو راټولولو په برخه کې د همکارۍ غوښتونکی شو.

## د جلال اباد ښاروالۍ له لومړۍ ناحیې څخه د کثافاتو انتقال جاري ترسره شوې

د جلال اباد ښاروالۍ د تنظیفاتي خدماتو په دوام د تنظیف او سرسبزۍ آمریت له لوري د ښار لومړۍ ناحیې د ویالو راټول شوو کثافاتو د انتقال جاري ترسره شوې.

د تنظیف او سرسبزۍ امریت په چوکاټ کې هره ورځ د ښار له نهه ګونو ناحیو نه په اوسط ډول ۸۵ موټره کثافات مناسبو ځایونو ته انتقالیږي.

د جلال باد ښاروالۍ رهبري له تاسو درنو ښاریانو غوښتنه کوي چې د ښار په پاکوالي کې د ښاروالۍ له کارکوونکو سره بشپړه همکاري وکړئ.

جلال آباد

## جلسه اداری شاروالی بامیان دایر شد

جلسه اداری شاروالی بامیان به منظور ایجاد نظم اداره، هماهنگی بیشتر میان کارمندان و بهبود امور خدمت رسانی تحت ریاست مولوی روزی محمد افکار، شاروال بامیان و اشتراک اعضای مجلس در دفتر ریاست شاروالی بامیان تدویر یافت.

جلسه با تلاوت آیات کلام الله مجید آغاز گردید و سپس در رابطه به فیصله های جلسه قبلی، گزارش مدیریت نواحی چهارگانه شهر بامیان از چگونگی پیشرفت جمع آوری محصول، صفایی اماکن شهر و هدایت ریاست عمومی انسجام امور شاروالی‌ها در رابطه به ایجاد بازار شبانه بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

جلال آباد

## د جلال اباد ښاروال مولوي نقیب الله طارق په مشرۍ د جلال اباد ښاروالۍ د مشورتي بورډ د شپږمې دورې لومړنۍ غونډه ترسره شوه



جلال آباد

د جلال اباد ښاروال د مشورتي بورډ غړو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل: د جلال اباد ښاروالۍ دروازې ستاسو پرمخ تل پرانیستې دي. تاسو د ښار د اوسېدونکو استازي یاست ستاسو لازمي مشورې او سپارښتنې د ښار په ښکلا، بیا رغونه او بهبود کې ډېرې مهمې دي.

د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس د مشورتي بورډ غړو سره د روان ۱٤۰۳ مالي کال د پروژو په اړه معلومات شریک کړل او ویې ویل: دا چې د جلال اباد ښار د مساحت له مخې کوچنی دی، ښاریان تل له ښاري ګڼې ګوڼې څخه شکایت کوي. هڅه کوو چې ښاري پراختیا رامنځ ته کړو. د راتلونکي ۱٤۰٤ مالي کال لپاره د ښار په بېلابېلو سیمو کې د پروژو د ترسره کولو پلانونه لرو.

د مشورتي بورډ د غړو له لوري په یو شمېر مهمو موضوعاتو لکه د ښار صوتي ککړتیا مخنیوی، د ښاري نظم په موخه عامه پوهاوی، د حلقوي سرک جوړول، له سرخاب پل څخه تر درونټې پورې د دوهم لین سرک کارونو پیلول، د ښار د اصنافو یو شمېر ستونزې او په نورو مسایلو ازاد بحث ترسره شو چې د ترسره کولو په موخه یې د راتلونکې لپاره لازم تدابیر ونیول شول. د نهه ګونو ناحیو یو- یو تن ګذر وکیلان او مخور، د ننګرهار پوهنتون، خصوصي پوهنتونونو، د ژورنالیستانو او لیکوالانو اتحادیې، اصنافو او هټۍ والو خونې، سوداګرۍ او پانګوالو خونې، ارشاد حج او اوقافو ریاست، امربالمعروف، د جلال اباد ښار مارکېټونو مالیکن، د اطلاعاتو او کلتور ریاست، کډوالو چارو ریاست او معلولینو چارو ریاست استازي شامل دي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې د ښار د ټولو اوسېدونکو قانوني او اصولي غوښتنو ته په وخت رسېده ګي وکړي او ښاریانو ته غوره خدمات وړاندې کړي.

## برنامه آموزشی تقویه فرهنگ شهرنشینی در ناحیه اول شهر بامیان دایر شد

برنامه آموزشی تقویه فرهنگ شهرنشینی به منظور بلند بردن سطح آگاهی عامه و تعمیم مشارکت شهروندان در تصامیم شهری در پارک ناحیه اول شهر بامیان با اشتراک شهروندان اعم از وکلای گذر، متنفذین، جوانان و علما به ابتکار شاروالی بامیان دایر گردید.

مدیر اجتماعی و فرهنگی و مدیر مجلس و شوراهای شاروالی بامیان در جلسه یادشده مطالبی مهم و مفیدی را در رابطه به فرهنگ شهرنشینی و مدیریت زباله های شهری به اشتراک کنندگان ارائه کردند.

در این جلسه ضمن استماع مشکلات و پیشنهادات شهروندان، تصامیم لازم و راهکارهای مؤثر در راستای حل مشکلات شهروندان وبهبود خدمات شهری به صورت مشارکتی اتخاذ شد.

جلسه با دعای خیر پایان یافت.

بامیان

## حشر عمومی به منظور پاکســـازی کانال ها و آبروها در مزارشریف راه اندازی گردید



مزار شریف

شاروالی مزارشریف حشر عمومی را برای پاکسازی کانال ها و آبروهـــا از وجود کثافات به منظور جلوگیری از آب خیزی ها و اشتغال زایی برای شـــهروندان بیکار و نیازمند، برنامه کار در بدل مـــواد غذایی را به همـــکاری ســـازمان جهانی غذا در مربوطات ناحیه چهارم شهر مزارشریف آغاز کرد.

قابل یاد آوری است که پروگرام مذکور مدت دو ماه می‌باشد و روزانه ۲۰۰ تن در مقابل کار مـــواد غذایی چون آرد، روغن، لوبیا و نمک بدست خواهند آورد.

## د مزارشریف ښـــار پنځمې ناحیې ســـړکونو څخه د بیا رغونې او جغل اچولو په موخه سروې ترسره شوه



مزار شریف

د مزارشریف ښاروال الحاج محمد کاظم طارق د لارښوونې په اساس د ښـــاروالۍ ســـکتوري او تخنیکي رئیس استاد محمد جاوید مایار په مشرۍ ټاکل شـــوي هیئت له لوري د پنځمې ناحیې ســـړکونو څخه د بیا رغونې او جغل اچولو په موخه سروې ترسره شوه.

د مزارشریف ښـــاروالۍ ســـکتوري او تخنیکي رئیس استاد محمد جاوید مایار د نومـــوړي سروې پر مهال یې وې ویل د مزارشریف ښـــاروالۍ په پام کې لري د ښار دولسګونو ناحیو چې ځینې سړکونه ویجاړ شوي وي په بشپړ ډول یې ورغوي.

بلخوا د مزارشریف پنځمې ناحیې اوســـیدونکو د ښاروالۍ له کړنو او لاســـته راوړنو یې ســـتاینه او خپل وړاندیزونه او ستونزې له نوموړي هیئت سره شریکې کړې.

## د پکتیکا ښـــرني ښاروالۍ د ښـــار په ټولو برخو کې د کثافت دانیو د نصبولو چارې جریان لري




پکتیکا

ښرنې ښاروالۍ ریاست له خپلو ګرانو ښاریانو څخه احترامانه غوښـــتنه لري چې یادې کثافت دانۍ ښـــار کې د چټلیو او کثافاتو د مخنیوي په موخه نصب شوي، ترڅو له دې لارې په منظمه توګه د ښـــار ټول کثافات او چټلي راټول او خونډي ځای ته انتقال شي.

د بافرهنګه او ژمنو ښاریانو په حیث دا ستاسو ټولنیز مسؤلیت دی، چې د خپل کار ځایونو او استوګنځایونو کثافات او چټلي د عامه ځایونو پر ځای په دغو کثافت دانیو کې واچوئ.

## وکلای گذر ناحیه اول از کارکردها و فعالیت های رئیس حکومتداری شـــهری شـــاروالی مزارشریف تقدیر و تمجید نمودند




مزار شریف

در نشستی که به هدف تقدیر و تمجید از کارکردها و فعالیت هـــای مولوی حزب الله مهاجر، رئیس حکومتداری شـــهری شـــاروالی مزارشریف برگـــزار گردیده بـــود در آن تعدادی از مســـؤولین ایـــن ریاســـت و وکیلان گـــذر ناحیه اول شـــهر مزارشریف نیز اشتراک داشتند.

مولوی حزب الله مهاجر، رئیس حکومتداری شهری شاروالی مزارشریف در صحبت های خود از حسن نظر و احساس درک وکلای ناحیه اول قدردانی نمـــوده و در حصه همکاری آنها با ریاست شاروالی و ارگان های امنیتی ناحیه اول تأکید کرد.

وی همچنـــان از آنهـــا خواســـت کـــه با در نظرداشـــت مســـؤولیت هـــای خـــود در حصـــه تقســـیم کمک های مؤسســـات با ایمان داری کامل عمل نمایند و کمک ها را به مستحقین آن برسانند.

حاجی محمد ذاکر فقیری یک تن از وکیلای گذر ناحیه اول شهر به نمایندگی وکلای ناحیه اول کارکردها و فعالیت های آقای مهاجر را با اهدای لوح تقدیر، مورد ستایش قرار داد.

جلسه با دعای خیر و فلاح به پایان رسید.

## کانکریت ریزی سرک جنوب مسجد جامع ابوذرغفاری آغاز گردید




سرپل

کار کانکریـــت ریـــزی ســـرک جنـــوب مســـجد جامـــع ابوذرغفاری به هزینه بیشـــتر از هشت میلیون افغانی که هزینه آن از بودجه انکشـــافی ریاســـت شـــاروالی شهر سرپل پرداخت می‌گردد آغاز شد.

کار کانکریت ریزی این سرک تحت نظارت انجنیران شاروالی و ریاســـت شهر سازی و مسکن ولایت سرپل قرار دارد و از مراحل مختلف تطبیق پروژه کنترل و نظارت می‌شود تا کانکریت ریزی سرک به شـــکل اساســـی و معیاری تطبیق گردد. همچنان با تکمیل شدن کانکریت ریزی مشکلات باشندگان شهر سرپل از این ناحیه حل خواهد گردید.

## رئیس ســـکتوری شاروالی مزارشریف از پارکینگ موتر های رسته زرگری شهر نظارت نمود



مزار شریف

اســـتاد محمـــد جاویـــد مایار، رئیس ســـکتوری شـــاروالی مزارشریف در حالی که مولوی عبدالقیوم مبارز، مدیر عمومی ترافیک ولایت بلخ نیز حضور داشـــت از پارکینگ موتر های رسته زرگری داخل شهر نظارت کرد.

آقـــای مایار به مالکین موترهای که وســـایط نقلیه خود را در سرک پارک می‌کردند هشدار داد که در آینده باید موتر های خود را در مکان تعیین شده از طرف شاروالی پارک نمایند و سبب مختل شدن نظم شهری نگردند.

از ســـوی هم کســـبه کاران و دکانداران این ساحه نیز وعده همکاری با ریاســـت شـــاروالی مزارشریـــف را در این بخش ســـپردند و از توجه ریاست مذکـــور به نظم شـــهری ابراز خرسندی کردند.

## مزارشریف ښار کې د نرخونو کنټرول او له احتکار څخه د مخنیوي کمیسیون د ښـــار ۲مې ناحیې اړوند د خوراکه توکو هټۍ والو څخه څارنه وکړه



مزار شریف

بلخ ولایت مرکز مزارشریف ښـــار کې د نرخونـــو د کنټرول او له احتکار څخه د مخنیوي کمیســـیون چې، د بلخ ولایت امارتي ادارو له استازو جوړ شوی دی، د ښار ۲مې ناحیې اړوند منډوي سیمې خوراکي توکو هټۍ والو څخه څارنه وکړه.

د څارنې پر مهال دوولس (۱۲) خوراکي توکو هټۍ وتړل شوې چې د مزارشریف ښاروالۍ د نرخپاڼو څخه یې سرغړونه کړې وه، دا په داســـې حال کې ده چې د مزارشریف ښاروالۍ مارکېټونو تنظیم او پراخیـــا امریت له لوري ټولو هټـــۍ والو ته پر وخت نرخپاڼې وېشل شوې او سپارښتنه شوې چې ټول اجناس دې د نرخپاڼې مطابق وپلورې.

بلـــخ ولایت کې د نرخونو کنټـــرول او احتکار څخه د مخنیوي کمیسیون مسؤولینو له خوراکي توکو هټۍ والو څخه یې غوښتنه وکړه، چې د پېر او پلور پرمهال دې انصاف په پام کې ونیسي او خپل توکي د مزارشریف ښـــاروالۍ نرخپاڼې مطابق وپلوري، د سرغړونې په صورت کې به قانوني او اصولي چلند ورسره کېږي.

## فراه ښاروالۍ له لوري د څه باندې ٦ میلیونه افغانیو په لګښت د سړکونو د روښنانولو چارې پیل شوې


فراه

فراه ښاروال ښاغلي مفتي سردار محمد مرصاد د سړکونو د روښانولو د پروژې د پیل پر مهال وویل چې د ښاروالۍ له پراختیایي بودیجې څخه د ٦ میلیونه او ۳۰۰ زره افغانیو په لګښت د ۲۲ سړکونو د روښانه ساتلو لپاره د څراغونو د بیارغولو چارې پیل شوې دي.

نوموړي زیاته کړې، چې د یادې پروژې چارې به د دوو میاشتو په موده کې بشپړې شي، چې ورسره به د فراه ښار ښکلا نوره هم زیاته شي.

ورته مهال د فراه اوسېدونکي د یادې پروژې په پلي کېدو خوښ دي او وايي، چې د یادې پروژې په پلي کېدو سره به د فراه ښار ښکلا څو برابره شي.

## خوست ښاروالۍ دویمه ناحیه کې د سړک جوړونې چارې د ټاکلي معیار سره سم روانې دي.


خوست

د خوست ښاروالۍ له لوري، دویمه ناحیه کې سیټي سنټر څخه تر ناکامورا څلورلارې پورې، د ۳۰ مترو په سور او ۲۲۰ مترو په اوږدوالي نوي جوړېدونکي سړک د اساسي جوړونې چارې د ښه کیفیت سره تر منظم ښار لاندې روانې دي.

د یادونې وړ ده چې د یاد سړک جوړونه د ښاریانو له غوښتنو څخه وه، چې د لبنتیو چارې یې بشپړې شوې دي، او تمه ده چې د روانې میاشتې په ترڅ کې د سړک نور کارونه هم بشپړ شي.

## خوست ښاروالۍ کارمندانو ته د پلان جوړونې درې ورځنۍ ورکشاپ پیل شو

د خوست ښاروالۍ د کارکوونکو د چارو لوی مدیریت لوري د ښاروالۍ کارمندان ته د پلان جوړونې او تطبیق اړوند درې ورځنۍ ورکشاپ پیل شو، چې د یاد ورکشاپ په جریان به د ښاروالۍ کارمندانو ته د کاري پلان جوړښت د پلان جوړونې اساسي اصول، د موخو ټاکل، د ستونزو تحلیل، او د اغېزمن تطبیق لارې چارې وښودل شي.

د یادونې ده، چې یاد ورکشاپ د خوست ښاروالۍ سوانحو او ارزونې مدیر میرحسن لخوا وړاندې کیږي، چې هدف یې د ښاروالۍ کارمندانو د کاري پلان جوړونې سره بلدتیا، ورتیاوو لوړول او د خدماتو وړاندې کولو بهیر لا اغېزمن کول دي.

خوست

## شاروالی شهر نیلی از ذغال سنگ فروشی ها، چوب فروشی ها، نانوایی ها و پیاده روهای شهر نیلی نظارت نمود


دایکندي

کمیته تنظیم بازار مطابق پلان کاری هفته وار خویش از ۸ باب دکان ذغال سنگ فروشی و چوب فروشی، ۲۳ باب نانوایی و پیاده روها نظارت کرد.

در جریان نظارت برای مسئوولین ۲ باب نانوایی از سوی کمیته مؤظف بابت رعایت نکردن نظافت توصیه و اخطار جدی داده شد.

همچنان به تمام ذغال سنگ فروشی ها، چوب فروشی ها، نانوایی های شهر نیلی از طرف کمیته مؤظف هدایت داده شد که مطابق نرخنامه تعیین شده خرید و فروش نمایند.

## غزني ښار څلورمې ناحیې اړوند سکورټ بازار کې د سړک په سر د چرګانو د غوښې د پلور مخنیوی وشوه


غزني

غزني ښاروالۍ ریاست د ښاري نظم کارکوونکو په څلورمه ناحیه کې هغه کس چې د چرګانو غوښې یې په لاسي کراچۍ کې پلورلې او د ښاروالۍ ریاست د اصولو څخه یې سرغړونه کړې وه تادیب او سپارښتنې ورته وشوې.

د ښاري نظم مدیر حافظ احمد وویل: سکروټ بازار کې هغه کس ته سپارښتنې وشوې چې، لاسي کراچۍ کې د چرګانو غوښې په ناقانونه توګه پلورلې.

د نوموړي په وینا: په عمومي لارو او واټونو کې په لاسي کراچیو کې د غوښې پیر او پلور په جدي توګه بند دي ځکه د غوښې پاکوالي ته خرخوونکي پاملرنه نه کوي چې، ناپاک غوښه بیا د بېلابېلو ناروغیو سبب ګرځي.

د یادولو وړ ده چې غزني ښاروالۍ ټول هغه هیوادوال چې، ښار کې د غوښو پیر او پلور کوي باید یخچال او پاک چاپېریال ولري.

## د قره باغ ښاروالۍ ښاروال سمیع الله شاهد د دوو پروژو سخه لیدنه وکړه


قرباغ/کابل


د کابل ولایت د قره باغ ښاروالۍ ښاروال سمیع الله شاهد د ۱٤۰۳ کال د دلوې ۱۷ مه نیټه د ښاروالۍ په قلمرو کې د دوو مهمو پروژو سخه لیدنه وکړه.

د دې پروژو څخه یوه د عمومي سرک لبنتي او بل یې د عمومي سرک جدول (کفستون) و. د دې پروژو د پرمختګ او کیفیت په اړه یې د شرکتونو انجینرانو ته لازم هدایات ورکړل او د کارونو په سمه تګلاره ټینګار وکړ.

ښاروال شاهد وویل چې دغه پروژې د خلکو د ګټې په موخه دي او د ښاروالۍ له خوا به د دې کارونو د پایلې په اړه ټول هڅې وکړي.

هغه د شرکتونو انجینرانو ته څرګنده لارښوونه وکړه چې د کارونو کیفیت او وختمهاله پایله باید په ټینګار سره تامین شي.

## مدیریت سر سبزی شاروالی گذره جهت رشد فضای سبز قیچی و اصلاح کاری ناجوی تویی را آغاز نمود


هرات

مدیریت سر سبزی شاروالی گذره ولایت هرات جهت رشد فضا های سبز قیچی و اصلاح کاری درختان ناجوی تویی داخل بلوارهای شهرک صنعتی را آغاز کرد.

اداره شاروالی گذره از شهروندان ولسوالی گذره خواسته است تا در قسمت حفظ فضاهای سبز با اداره شاروالی همکار باشند.